# د افغانستان اسلامی جمهوری دولت

# د مخابراتو او معلوماتی تکنالوجی وزارت

## آسان خدمت اداره

سریزه:

دا ناسته د ۱۳۹۸ د وري په ۲۴مه د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت، د تدارکاتو په ریاست کې ترسره شوه. د شپږو تبلیغاتي شرکتونو استازو یکې ګډون کړی، د پروژې په اړه تفصیلي معلومات د آسان خدمت اداري د نشراتو متخصص ښاغلي عمادالدین دوران له لوري وړاندې کړای شول.

ګډونوال:

د آسان خدمت اداري او مخابراتو وزارت له لوري لاندې ذکر شوو وګړو په دې ناسته کې حضور درلود.

| | |
|---|---|
| عمادالدین دوران | آسان خدمت |
| نور آغا صدیقزی | آسان خدمت |
| اسلم شیرزاد | د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارت، تدارکاتو ریاست |

**پوښتنې او ځوابونه:**

**د آسان خدمت ادارې د بلبورډونو له لارې د تبلیغاتي پروژې له داوطلبۍ څخه مخکې جلسې پوښتنې او ځوابونه**

| شمېره | پوښتنه | ځواب |
|---|---|---|
| 1 | پوښتنه: ستاسی په پروژه کی خو داسی لوحی یا بینری نشته چی د دهوائی پلونو په سر و حرول شی؟ | له دې پوښتنې څخه د دوی مراد دا و، چې ګواکې تاسو خو د بلبورډونو تر څنګ سټریټ بینرونه نه لرئ، چې په لارو کوڅو کې له هوايي پلونو څخه راوځړول شي؟ ځواب ورکړل شو، چې د آسان خدمت په دې اعلان شوې پروژې کې داسې سټریټ بینرونه نشته چې په لارو کوڅو کې راوځړول شي ځکه مونږ نه غواړو په داسې لارو تبلیغات وکړو چې له غیر قانوني وي او له کابل ښاروالۍ سره څه اړیکه ونه لري؛ البته د آسان خدمت په تبلیغاتو کې یو شمېر ځایونه داسې، چې هلته په هوايي پلونو کې نصب شوي بلبورډونه دي او غواړو هلته هم تبلیغات وکړو. |
| 2 | پوښتنه: ستاسی د یادی پروژی بلبوردونه دوه میاشتی نصب کیژی او بیا دوه میاشتی وقفه لری که چیرته په هغه تاکل شوی موقیعت کی جای خالی لوحه نه وی ؟ | ځواب: دا د یوې دولتي ادارې (آسان خدمت) غوښتنه ده، نه د یو فرد. آسان خدمت ادارې پروژه اعلان کړې او د پروژې ټولې ځانګړتیاوې او ټول ځرنګوالی یې په شرط نامه کې ذکر کړی، هر هغه شرکت چې وکولای شي، د آسان خدمت ادارې دغه غوښتنې پوره کړي نو له لومړیتوب به ورته ورکول کیږي، البته که اداره د خپلو اړتیاوو له مخې وغواړي نو ممکن د خپلو تبلیغاتو په ځرنګوالي او د نصب په موده کې بدلون راولي. |
| 3 | پوښتنه: ستاسی ددی پروژی د بلبوردونو سره داسی صوتی یا تصویری اعلانات هم شته دی چی د تلویزیون , رادیو یا اخبار له لاری نشر شی؟ | ځواب: آسان خدمت اداره له بېلابېلو لارې د خپلو خدمتونو لپاره تبلیغات کوي، په دې پروژه کې یوازې بلبورډونه دي او پاتې نورې چارې په تاسو پورې اړه نه لري. |
| 4 | پوښتنه: د پروژی معیاد د | د پروژې معیاد یو کال دی او د شپږو میاشتو لپاره بلبورډونه نصب کیږي، چې د هرو دوو میاشتو تر منځ دوه میاشتې |

| | | |
|---|---|---|
| | سومره وخت لپاره دی او بلبوردونه د سومره وخت لپاره نصب کیژی؟ | وقفه راځي. |
| 5 | پوښتنه:که چیرته یو بلبود دباد او نورو افتونو له امله تخریب شی بیا روغونه یی په چا پوری مربوط ده؟ | ځواب: د پروژې په جريان کې چې هر ډول ستونزه رامنځته کيږي، د بلګې په توګه د بارانونو، لمر، توپان او... له لارې بلبورډ تخريبيږي نو بيا رغونه يې د شرکت مسووليت دی، چې زيات نه زيات په دوو ورځو کې يې ورغوي. |
| 6 | پوښتنه:ستاسی لخوا په کوم جای چی بلبود مشخص شوی وی او دهغی په طول او عرض هلته لوحه پیدا نشی تاسی بله لوحه مونژ ته انتخاب کوی یا که هماغه اندازه باندی لوحه غواری؟ | ځواب: مونږ د پروژې د پلي کولو ټولې خواوې په پام کې نيولي، زمونږ د سروې ټيم د بلبورډونو اندازه د اټکل له مخې ليکلي او ممکن دغه اټکل سل په سلو کې سم نه وي، مثلاً د سروې ټيم يو بلبورډ ته درېدلی او د خپلې ذهني قوې له مخې يې اندازه کړې، چې دا بلبورډ به دومره وي. که چېرته کوم موقعيت کې د بلبورډ په اندازه کې ډېروالی او کموالی راځي نو آسان خدمت اداره د غوره تشخيص له مخې د پروژې د پلي کولو په پار يو ډول مراعات کوي. بايد په پام کې ونيول شي، چې هر هغه شرکت ته به لومړيتوب ورکول کيږي چې کولای شي د آسان خدمت دغه تبليغاتي پروژه ښه پلي کولای شي. |

**پای:**

غونډې نږدې يو ساعت دوام درلود، په ۱۰ بجو پيل شوې وه او ۱۱ بجو پای ته ورسېده.